د ټرون د ورکولو د پرېکړې خبرتیا

موضوع: د افغانستان د اداینو سیستم او معلوماتي ټکنالوژۍ آمریتونو لپاره د سرورونو چمتو او تدارک کولو پروژې ټرون د مایکرو سیستمس د معلوماتي تکنالوژۍ او ارتباطي خدماتو شرکت ته د ورکولو د پرېکړې خبرتیا.

د ملي تدارکاتو ریاست د (20580) شمېرې او 1447/12/27 نېټې د متحدالمال د دویمې مادې د (6) بند پر بنسټ ټولو ته خبر ورکول کېږي چې د افغانستان بانک په پام کې لري څو د افغانستان د اداینو سیستم او معلوماتي ټکنالوژۍ آمریتونو لپاره د سرورونو چمتو او تدارک کولو پروژې ټرون د مایکرو سیستمس د معلوماتي تکنالوژۍ او ارتباطي خدماتو شرکت ته ورکړي، چې دا شرکت د 35207 شمېرې جواز لرونکې او اصلي استوګنه یې د کابل ولایت، د تایمنیو دویم سړک کې دی د ټرون ټولیزه بیه 26,526,145 شپږ ویشت میلیونه، پنځه سوه شپږ ویشت زره، یو سل او پنځه څلویښت افغانۍ ده.

هر هغه حقیقي او حکمي اشخاص چې په دې اړه کومه نیوکه ولري، کولای شي خپله نیوکه د اعلان د خپرېدو له نېټې څخه تر پنځو (۵) کاري ورځو پورې، په لیکلې بڼه، د دلایلو او مستنداتو په ملتیا، د افغانستان بانک د تدارکاتو لوی آمریت ته، چې د کابل په ابن سینا واټ کې موقعیت لري، وسپاري.

دا خبرتیا د ټرون د عقد کولو په معنا نه ده، او تر هغه چې پورته یاده شوې موده پای ته ونه رسېږي او ورپسې ټول قانوني مراحل بشپړ نه شي، ټرون به نه عقد کېږي.